# شتمني
# SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**رسول الله ﷺ فرمايي:**

کله چي سړی د الله د رضا لپاره او د ثواب په نيت پر خپل اهل او کورنۍ باندي شتمني لګوي، نو په صدقه کي شمېرل کيږي. (رواه البخاري و المسلم)

**رسول الله ﷺ می فرماید:**

وقتی یک شخص بخاطر رضا الله و به نیت ثواب دارایی خود را بالای خانواده خود مصرف میکند، صدقه محسوب می شود. (رواه البخاري و المسلم)

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه | د ربيع الاول ۱۸-۱۴٤٦ل س/ د وږي ۳۱-۱٤۰۳ل ل/ د سيپتمبر ۲۱-۲۰۲٤ز/څلورم کال / ۱۱٦ ګڼه/ ٤ مخيزه




## سر مقاله

### شفافیت نظام مالیاتی اولویت وزارت مالیه است

سیستم مالیاتی یا نظام مالیاتی، مجموعه‌ای از قوانین، مقررات است، که تعیین می‌کند چگونه مالیات به شهروندان یا شرکت‌ها جمع آوری گردد. این سیستم‌ها برای جمع آوری درآمدهای دولت و تأمین هزینه‌های عمومی همچون ساخت زیربناها، خدمات اجتماعی و دیگر امور اقتصادی طراحی شده‌اند. در جهان مالیات به‌عنوان بخشی از منبع درآمد دولت‌ها شمرده میشود و بسیاری از افراد جامعه، نظام های مالیاتی همواره تلاش نموده تا مالیات قابل پرداخت طبق قوانین مالیاتی و همچنان استفاده بهینه از منابع خود را جمع آوری نمایند. سیستم مالیاتی را میتوان درآمد، مالیات بر مصارف، مالیات بر املاک، مالیات بر ارث و مالیات بر شرکت‌ها، تعریف نموده و همچنان سیستم مالیاتی شامل نرخ مالیاتی هم میشود، نرخ مالیاتی مشخص می‌کند که به چه میزان از درآمد یا ارزش‌های مالی مالیات تحمیل می‌شود. شفافیت در نظام مالیاتی اصلی است که به تشریح و انتشار اطلاعات مالیاتی مربوط به شهروندان، شرکت‌ها، و سازمان‌ها اشاره دارد. این اصل بر اهمیت انتشار اطلاعات مالیاتی به طور شفاف و قابل فهم برای عموم متمرکز است. جمع آوری مالیات به گونه عادلانه و ایجاد شفافیت مالی و اقتصادی در کشور مهم‌ترین مسئله نظام یا سیستم مالیاتی پنداشته میشود. شفافیت در فعالیت‌های اقتصادی تاثیر بسیار زیادی از جمله هوشمندسازی نظام مالیاتی، جلوگیری از فرار مالیاتی، پرداخت مالیات مطابق با درآمد و با رویکرد برابر و باعث افزایش رضایت مالیه دهنده میشود. همچنان شفافیت در نظام مالیاتی باعث افزایش اعتماد عمومی به دولت می‌شود. افراد و شرکت‌ها که می‌دانند سیستم مالیاتی به صورت منصفانه و بدون تبعیض اجرا می‌شود، احتمال پرداخت به موقع مالیات را بیشتر نموده، افراد و شرکت‌ها کمتر توانایی خواهند داشت تا از پرداخت مالیات فرار کنند، یا اطلاعات مالیاتی خود را مخفی نگه دارند. در پهلوی آن می‌تواند افراد را به پرداخت به موقع و کامل مالیات تشویق کند. اطلاعات شفاف می‌تواند افراد را از وظایف و مسئولیت‌های مالیاتی شان آگاه نموده که احتمال افزایش تعداد افرادی که به درستی مالیات پرداخت می‌کنند، بیشتر شود. این می‌تواند به افزایش درآمد مالیاتی دولت کمک کند. بعد از حاکمیت دوباره امارت اسلامی بر کشور، وزارت مالیه شفافیت را در نظام مالیاتی اصل قرار داده که تأثیر بسزایی بر عدالت و کارایی این نظام گذاشته است. با در نظرداشت اهمیت نظام شفاف این وزارت همواره تلاش ورزیده است تا در سیستم مالیاتی شفافیت کامل را ایجاد نموده، پروسه جمع آوری مالیات را بطور کامل الکترونیکی نموده و افراد متعهد و صادق را در این بخش ها گماشته است. همچنان تخفیف های قابل ملاحظه یی را در نظر گرفته که نقش مثبت و ارزنده‌ی در تطبیق نورم مالیاتی و ایجاد شفافیت به میان آورده است. وزارت مالیه در نظارت و ایجاد شفافیت در نظام مالیاتی کوشاه بوده و از هر گونه بی عدالتی و فرار مالیاتی به جدیت جلوگیری نموده است.

**با احترام**

**اداره**

# له تېري اداري څخه پر نظام باندي د يو شمېر بهرنيو بنسټونو له پاتي پورونو څخه (۲,۷) ميليارډه افغانۍ ورکول سوي دي



- د ماليې وزارت له تېري اداري څخه پر نظام باندي د يو شمېر بهرنيو بنسټونو له پاتي پورونو څخه (۲,۷) ميليارډه افغانۍ پور ور کړی دئ.
- اسيايي پراختيايي بانک ته نيږدې (۱,۹) بيليونه/ ميليارډه افغانۍ او نړيوال بانک ته څه کم (۹۱۰) ميليونه افغانۍ بېرته ورکول سوي دي.
- اسلامي امارت په تېرو دريو کلونو کي له هيڅ کوم بهرني هيواد يا بنسټ څخه پور نه دئ اخيستی.

د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ له پرېکړي سره سم د ماليې وزارت له لوري له تېري اداري څخه پر نظام باندي د يو شمېر بهرنيو بنسټونو له پاتي پورونو څخه (۲,۷) ميليارډه افغانۍ پور ورکول سوی دئ. له دې بهرنيو بنسټونو څخه نړيوال بانک ته څه کم (۹۱۰) ميليونه افغانۍ او اسيايي پراختيايي بانک ته نيږدې (۱,۹) بيليونه/ ميليارډه افغانۍ بېرته ورکول سوي دي. سر بېره پر دې د ماليې وزارت په روان (۱۴۰۳) هـ.ل کال کي د يو شمېر بهرنيو بنسټونو د پورونو د ورکړي په موخه له ملي بوديجې څخه يوه اندازه پيسې ځانګړې کړي دي، چي د پور ورکوونکو بنسټونو له غوښتني او د اسلامي امارت د رهبرۍ له هدايت سره سم به يادو بنسټونو ته ورکړل سي. اسلامي امارت په تېرو دريو کلونو کي له هيڅ کوم بهرني هيواد يا بنسټ څخه پور نه دئ اخيستئ؛ بلکي هڅه کوي، چي له تېري اداري څخه پر نظام باندي ټول پاتي پورونه هم له سوي قرارداد سره سم د رهبرۍ د پرېکړي پر بنسټ بيرته ورکړي؛ تر څو افغانستان د هيڅ کوم بهرني هيواد يا بنسټ پوروړی پاتي نه سي.

## د تعرفې کمېټې د يو شمېر اقلامو د تعرفو په اړه مهمي پرېکړي وکړې

د تعرفې کمېټه، چي د ماليې وزارت په ګډون پنځه وزارتونه، (د سوداګرۍ او پانګوني، د کانونو او صنايع خوني) او يو شمېر نوري اداري ئې غړيتوب لري؛ د هيواد اقتصادي وضعيت ته په کتو د ګمرکي اقلامو د تعرفو په تړاو مهمي پرېکړي کوي. د دې کمېټې د روان (۱۴۰۳)هـ.ل کال دريېمه ناسته د ګمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر حاجي ادريس په مشرۍ د ياد معينيت د غونډو په تالار کي وسوه. په پيل کي د ماليې وزارت د تعرفې رياست له لوري د لاندي ذکر سوو اقلامو په اړه د سوداګرو او صنعتکارانو غوښتني او په يادو برخو کي د بازار د وضعيت تحليل د غونډې له ګډونوالو سره شريک سو، چي د تعرفې کمېټې غړو د يادو اقلامو په اړه هر اړخيز بحث وکړ او د کورني صنعت د ملاتړ او د سوداګرۍ او ملي عوايدو د ودې اصل ته په کتو سره لاندي پرېکړي وسوې، چي د ماليې د وزير له منظورۍ وروسته به د تعرفې له اصولو سره سم پلي سي.

| شمېره | د توکي نوم | د ګمرکي تعرفې مخکنۍ سلنه | اوسنۍ تاکل سوې تعرفه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د چرګانو هګۍ (عادي تعرفه) | ۱۰٪ | ۱۶٪ |
| ۲ | د چرګانو هګۍ (موسمي تعرفه) | ۱۶٪ | ۲۰٪ |
| ۳ | ايزوګام | ۱۰٪ | ۱۶٪ |
| ۴ | الکوبان | ۵٪ | ۱۰٪ |
| ۵ | بېټرۍ | ۸٪ | ۱۲٪ |
| ۶ | صحي ټوټې | ۵٪ | ۱۰٪ |
| ۷ | عادي خراغونه | ۱۰٪ | ۲۰٪ |
| ۸ | کتابچې | ۲.۵٪ | ۲۵٪ |
| ۹ | د موټرونو ټاير او ټيوب | ۲.۵٪ او ۵٪ | ٪ ۲.۵ |
| ۱۰ | رخت، ترپال او پراشوټ | ۱۰٪ او ۲.۵٪ | ۲.۵٪ |
| ۱۱ | د سړوخونو لپاره ساندويچ پېنل | ۳۰٪ | ۲.۵٪ |
| ۱۲ | د ماشينونو پرزې | ۵٪ | ۱٪ |

همداشان د سوداګرۍ په تړاو د لا اسانتياوو په موخه د يو شمېر توکو لپاره د تعرفې ملي کوډونو د جوړېدو په اړه هم پرېکړه وسوه.



د هيواد د ګمرکي چارو د لومړيو شپږو مياشتو ارزونه وسوه



برنامه آموزشی تحت عنوان "اساسات مدیریت" برای ۵۰ تن کارمند معینیت عواید و گمرکات دایر گردید


م ۲




تېره اونۍ په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته کچه قاچاقي توکي نيول سوي دي


م ۲




د وزارتونو مالي او تدارکاتي مسئولينو ته د مالياتي پروسې په تړاو د پوهاوي سيمينار جوړ سو


م ۲




مروری بر بحران اقتصادی جهانی


م ۳





افغانستان د (۱۰) بيليونو امريکايي ډالرو په ارزښت د ټاپي د ګازو نلليکي پروژې د پيل اعلان وکړ


م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

## تېره اوونۍ په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته کچه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د هرات، نیمروز او فراه ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته کچه قاچاقي توکي نیولي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.

په نیول سویو توکو کي (۱۲٦۰۰) کیلو ګرامه مالګه، (۸۲۸۰) کیلو ګرامه چاکلېټ، (٤۸۳) کیلو ګرامه نباتي غوړي، (۳۰۰) کیلو ګرامه پلاستیکي کڅوړې، (۲۵۰۰) کیلو ګرامه ککاو، (۲۵۸۰) کیلو ګرامه تعمیراتي رنګ، (۵۱۰) کیلو ګرامه تشي بوجۍ، (٤٤٤) کیلو ګرامه شامپو، (۷۳۲) کیلو ګرامه رُب، (۱۲۰) کیلو ګرامه انساني درمل، (۲٤۰) کیلو ګرامه زراعتي درمل، (۲٤۰) کیلو ګرامه حیواني درمل، (۲۹٤) کیلو ګرامه مکروني، (۱۳۵) کیلو ګرامه وچې یا پوډري شیدې، (۷۲) کیلو ګرامه پروټین، (۱۵۲) کارټنه تاریخ تېر بسکویټ، (۳۰) کارټنه د مخ کریم او (۲۱) کارټنه ټینر شامل دي.

نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو لپاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.

د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کي دوامداره فعالیت کوي او هیچا ته اجازه نه ور کوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولیږدوي.

## د نیمروز په ګمرک کي د موټرونو لپاره د تمځای جوړولو چاري په چټکۍ سره رواني دي



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست له لوري د نیمروز ګمرک لپاره د موټرونو د تمځای جوړولو پروژې چاري تر دې مهاله (٦۳) سلنه پر مخ تللي او رغنیزي چاري ئې په چټکۍ سره رواني دي.

پر دې پروژه باندي شاوخوا (۳۲) میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چي د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي.

د نیمروز ګمرک د موټرونو د تمځای جوړولو پروژه پروسږکال د سلواغې په میاشت کي پیل سوې وه او د روان کال د لړم په میاشت کي به ګټې اخیستني ته وسپارل سي.

د موټرونو په دې تمځای کي به په اساسي ډول کانکرېټ اچونه وسي او له ټولو اسانتیاوو څخه به برخمن وي.

د دغه تمځای په جوړېدو سره به موټر چلوونکو او د ګمرک کارکوونکو ته ګټي اسانتیاوي برابري سي.

# د هیواد د ګمرکي چارو د لومړیو شپږو میاشتو ارزونه وسوه

د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د ګمرکونو له مسؤلینو سره د ګمرکي چارو د لا ښه والي په موخه د روان مالي کال د لومړنیو شپږو میاشتو د تر سره سوو چارو د ارزوني ناسته وسوه.

په دغه ناسته کي د ګمرکونو لوی رئیس د روان مالي کال په لومړنیو شپږو میاشتو کي د دغه ریاست د اړوندو مرکزي او ولایتي ادارو چاري مثبتي یادي کړې. نوموړي پر خپلمنځي مشورتي ناستو ټینګار وکړ او د ستونزو د را برسېره کولو، حلولو او تجربو شریکولو ښه لاري ئې وبللې.

ور پسې د ګمرکونو لوی ریاست اړوند ادارو لخوا د روان کال په پیل کي د ترسره سوي ناستي د پرېکړو پلي کېدو په اړه بحث وسو او هري مسؤلي اداري د خپلو ترسره سویو کړنو راپور وړاندي کړ، چي له مخې ئې زیاتره مهمي پرېکړې پلي سوي وې او ځیني ئې د پلي کېدو په حال کي دي.

همدا رنګه په ګمرکونو کي سوداګرو ته د لازمو اسانتیاوو په رامنځته کېدو، په هیواد کي د سوداګرۍ د لا ودې، د سوداګریزو توکو د چټکو طی مراحلو لپاره له اړوندو ادارو سره د شته ستونزو په شریکولو، په ګمرکونو کي د سوداګریزو توکو د خوندیتوب په موخه د ګدامونو، سروخونو او نورو بنسټونو په جوړولو، په ټولو ګمرکونو کي د سوداګریزو توکو د یو شان اجراآتو په ترسره کولو، د بیې اېښودني د کوډونو پر اصلاح، د ګمرکي باقیاتو په تصفیه کولو، د قاچاقي توکو د مخنیوي او یو شمېرو نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو بحث او سلا مشورې وسوې او هم ئې په اړه لازمي پرېکړې وسوې.



## د وزارتونو مالي او تدارکاتي مسئولینو ته د مالیاتي پروسې په تړاو د پوهاوي سیمینار جوړ سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د یوې غونډې په ترڅ کي د ټولو وزارتونو مالي او تدارکاتي مسئولینو ته د مالیاتي پروسې په تړاو د ګمرکونو او عوایدو په ملي اکاډمۍ کي د پوهاوي یو ورځنی سیمینار جوړ کړ.

په دې ناسته کي د عوایدو لوی رئیس حافظ شاه حسین حسیني، د عوایدو د لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس مولوي نداء محمد صدیقي، د مالیې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي رئیس او ویاند احمد ولي حقمل، د ګمرکونو او عوایدو د ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او یو شمېر نورو مسئولینو ګډون کړی وو.

د عوایدو لوی رئیس د اخلاص، ژمنتوب او تقوا په اړه خبري وکړې او زیاته ئې کړه؛ موږ ته چي کوم مسئولیتونه راکړل سوي دي، پر وړاندي ئې خدای او ولس ته ځواب ویونکي یو، دغه مسئولیتونه هغه وخت په سمه توګه ترسره کولای سو، چي په اړه ئې سم پوهاوی ولرو، ستاسي لپاره د دغه سیمینار د جوړولو موخه د پوهي ترلاسه کولو او د مسئولیتونو په اړه پوهاوی دئ؛ نو دې برخه کي لټي مه کوئ او هڅه وکړئ، چي یو څه تري زده او عملي ئې کړئ.



د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس د مالیې وزارت په ځانګړي ډول د عوایدو لوی ریاست د مهمو دندو او مسئولیتونو په اړه معلومات وړاندي کړل او زیاته ئې کړه، دغه سیمینارونه چي تاسو ئې شاهد یاست د نورو ادارو لپاره هم جوړ سوي دي. په دې سیمینار کي مالیاتي پروسه تاسي ته تشریح کېږي، سربېره پر دې، د اصلاحاتو د رامنځته کولو او په قانوني اسنادو کي ئې د ځای پر ځای کولو لپاره به ستاسي وړاندیزونه هم په پام کي ونیول سي؛ نو له دې سیمینار څخه پوره ګټه پورته کړئ، د شفافیت په رامنځته کولو او له عوایدي تېښتي څخه د مخنیوي په برخه کي له موږ سره همکاري وکړئ.

ورپسې د عوایدو لوی ریاست مسئولینو د یوه پریزینټېشن په وړاندي کولو سره د وزارتونو مالي او تدارکاتي مسئولینو ته د مالیاتو، د مالیاتو ډولونو، د مالیاتي پروسې، طرزالعملونو، د مالیاتي نورمونو، لوایحو، اظهارنامو او د دغه ریاست د موخو په اړه معلومات وړاندي او د ګډونوالو پوښتني هم ځواب سوې.

## برنامه آموزشی تحت عنوان "اساسات مدیریت" برای ۵۰ تن کارمند معینیت عواید و گمرکات دایر گردید



ریاست منابع بشری وزارت مالیه برنامه آموزشی تحت عنوان "اساسات مدیریت" را برای ۵۰ تن کارمند معینیت عواید و گمرکات این وزارت دایر نمود.

در نشستی که به همین مناسبت در سالون کنفرانس های اکادمی ملی عواید و گمرکات راه اندازی شده بود، حافظ شاه حسین حسینی، رئیس عمومی عواید، مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری، بلال احمد احدی، آمر اکادمی ملی عواید و گمرکات و شماری از کارمندان اشتراک داشتند.

رئیس منابع بشری در سخنان افتتاحیه این برنامه در مورد انواع استخدام در جهان معلومات ارائه نموده افزود، برنامه که امروز در افتتاح آن اشتراک دارید، یک برنامه رسمی است که در وقت رسمی راه اندازی گردیده است تا مهارت های مسلکی خود را ارتقاء داده مصدر خدمت هر چه بهتر به این نظام مقدس اسلامی و به مردم شوید.

امکانات که در اینجا به شما مهیا شده همه از بیت المال تأمین گردیده پس مکلف هستید از این برنامه استفاده اعظمی نمایید زیرا شما به عنوان کارمندان این نظام وظیفه اجراء می کنید. وی همچنان اضافه نمود که این برنامه و امتحان که در اخیر از شما اخذ می گردد، برای شما سرنوشت ساز است، پس تلاش کنید اصول و کار ها را به خوبی بیاموزید و با سپری کردن مؤفقانه آن به وظیفه خویش ادامه دهید، در غیر آن کسانی دیگری به عوض شما تقرر حاصل خواهن کرد.

در اخیر نشست با دعای خیر اختتام یافت.


قابل یاد آوریست که این برنامه به مدت ۱۰ روز ادامه داشته و در آن اساسات مدیریت (برنامه ریزی، سازماندهی، استخدام، هدایت و فرماندهی و کنترل ) و دیگر موضوعات مرتبط به اشتراك کنندگان توضیح داده می شود.

# د ګمرکونو لوی ریاست اداري ناسته وسوه

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د روان (۱٤۰۳) هـ.ل کال دوولسمه اداري ناسته د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد ریاست په مقام کي وسوه.

په دې ناسته کي د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي مرستیال، رئیسانو او یو شمېر آمرینو هم ګډون کړی وو.

له اجنډاء سره سم په دې ناسته کي د هیواد په ګمرکونو کي د وارداتي، صادراتي او ټرانزیټي توکو په طی مراحلو کي پر سته ستونزو او حللارو، د ګمرکونو لوی ریاست د ورځنیو چارو په لا ښه والي، په ګمرکونو کي د یو شمېر سوداګریزو شرکتونو او صنعتکارانو د ستونزو په حلولو، په هیواد کي د سوداګرۍ د لا ودې په موخه په ګمرکونو کي د اسانتیاوو په رامنځته کېدو او د یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث او خبري وسوې او په اړه ئې لازم تصمیمونه ونیول سول.



اوونیزه

# مروری بر بحران اقتصادی جهانی

عبدالبصیر عمر شاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

ادمه مقاله شماره ۱۱۵

در سال (۲۰۰۷) افراد زیادی در صف ایجاد شده روبروی بانک نورترن راك در انگلستان می‌ایستادند تا وجوه سپرده‌شده خودشان را از بانک پس بگیرند. این بانک که جزو بانک‌های میان رده محسوب می‌شد، از بانک مرکزی انگلستان حمایت دریافت کرد؛ همین موضوع باعث ایجاد وحشت بین سپرده‌گذاران شد. در همین حین شرکت مالی دلتا پس از ناکامی در فعالیت‌های خود اعلام ورشکستگی کرد و از طرفی دیگر نرخ بیکاری با مقداری افزایش به (۵) در صد رسید. با کاهش رتبه اعتباری Ambac (یک شرکت بیمه اوراق قرضه)، بازارهای سهام به پایین‌ترین سطح سالانه خود سقوط کردند. در جنوری (۲۰۰۸) فدرال رزرو بانک نرخ بهره را (۰,۷۵) فیصد کاهش داد تا اقتصاد را تحریک کند که بزرگ‌ترین کاهش در (۲۵) سال اخیر بود. قانون محرك اقتصادی تصویب شد که مهم‌ترین فاکتور آن تخفیف‌های مالیاتی بود. مهم‌ترین دلیل این تصمیمات خروج از رکودی بود که دست به گریبان بازار بود. (محمدیان, ۱٤۰۳) در (۱۷) مارچ (Bear Stearns) با وجود (٤٦) میلیارد دالر دارایی وام مسکن که پرداخت کرده بود و (۱۰) تریلیون دالر دارایی کل با ورشکستگی مواجه شد. پس از آن فدرال رزرو موافقت کرد که این وام‌های بد را تضمین کند، در همین جهت قیمت کف (۲) دالر را اعلام کرد تا به این صورت حمایتی را از این اوراق نشان داده باشد. همین اقدام سبب شد که در هفته‌ی بعد از آن، قیمت سهام به (۱۰) دالر برسد. این در حالی بود که در هفته‌ی گذشته‌اش قیمت همین اوراق (٦۰) دالر معامله می‌شد. در اواخر این دوران نرخ بیکاری باز هم افزایش یافت و به (٦) در صد رسید. مهم‌ترین اتفاق در سپتامبر (۲۰۰۸) این بود که فدرال رزرو از تضمین اوراق دست کشید.



این اتفاق به همراه ورشکستگی لیمن برادرز باعث افت حدود (٤,۵) در صدی شاخص داوجونز شد. این کاهش در هفت سال قبل از آن بی‌سابقه بوده است. لازم به ذکر است که همراه با این کاهش، طلا تا (۹۰۰) دالر رشد کرد. این التهابات رئیس جمهور وقت ایالات متحده (جورج بوش) را برانگیخت تا در آخرین روز سپتامبر مصاحبه ای را درباره وضع موجود انجام دهد. او در این مصاحبه گفت:"کنگره باید اقدام کند؛ اقتصاد ما به دولت قاطع وابسته است. هرچه زودتر به مشکل رسیدگی کنیم زودتر می‌توانیم به مسیر رشد و ایجاد اشتغال بازگردیم." پس از این مصاحبه شاخص داوجونز با رشد (٤,۷) در صدی تقریبا" در همان‌جایی که قبل از ریزش ایستاده بود رسید. در ابتدای سال (۲۰۰۹) نشریه سیتی مدعی شد که در این سال سنگاپور شدیدترین رکود تاریخ خودش را تجربه خواهدکرد. از طرف دیگر در ایسلند اعتراضات بحران مالی تشدید شد و دولت ایسلند سقوط کرد. در (۱۳) فیبروری کنگره، قانون بازیابی و سرمایه‌گذاری مجدد امریکا در سال (۲۰۰۹) را تصویب کردکه یک بسته محرک اقتصادی( ۷۸۷) میلیارد دالری بود. بارك اوباما رئیس جمهور وقت در (۱۷) فبروری آن را امضا کرد. کاهش قیمت سهام همراه با رکود بزرگ شکل گرفته بود. در (۳) مارچ (۲۰۰۹) رئیس جمهور اوباما در حمایت از بازار سهام گفت:" خرید سهام بالقوه اکنون خوب است، اگر دیدگاه تان بلند مدت باشد." شاخص داوجونز در این بازه زمانی از سقف سال (۲۰۰۷) خود (٥٤) فیصد پایین‌تر بود و شرایط مطلوبی نداشت. در (۱۰) مارچ شاخص‌های سهام بین (۵) تا (۷) در صد رشد کردند. حتی پس از آن در (۱۲) مارچ زمانی که چندین بانك امریکایی اعلام کردند که سودآور شدند و نیازی به حمایت فدرال رزرو ندارند، خوشبینی ها از بهبود شرایط باعث افزایش حدود (٤) در صدی شاخص های بازار سهام شد. در نهایت در (۱۰) اپریل مجله تایم اعلام کرد:"بحران بانکی سریع‌تر از آنچه ایجاد شد، به پایان رسید". دو سال پس از بحران شدید، بسیاری از شاخص‌های بازار سهام (۷۵) در صد بالاتر از پایین ترین سطح خود رسیده بودند. در این سال متوسط ثروت خانواده ها از حدود (۱۰۷) هزار دالر به حدود (٦۹) هزار دالر رسیده بود که کاهش (۳۵) در صدی را نشان می‌داد. در (۲٦) جولای (۲۰۱۲) در طول بحران بدهی اروپا بانك مرکزی اروپا اعلام کرد که هرکاری برای حفظ ارزش یورو خواهیم کرد. در (۱۳) سپتامبر (۲۰۱۲) فدرال رزرو برای بهبود نرخ‌های بهره پایین تر، حمایت از بازارهای وام مسکن و مساعد کردن شرایط مالی، دور دیگری از تسهیلات را که شامل خرید (٤۰) میلیارد دالر اوراق خزانه بلندمدت در هر ماه بود انجام داد. درسال (۲۰۱٤)گزارشی نشان داد که توزیع درآمد خانواده ها در طول بهبود اقتصادی پس از بحران مالی (۲۰۰۸) نابرابرتر شده. در جون (۲۰۱۵) مطالعه‌ای که توسط (ACLU) انجام شد، نشان داد که خانواده‌های سفیدپوست دارای خانه، سریع‌تر از خانواده‌های سیاه‌پوست از بحران مالی بهبود یافتند و نتیجه گرفت که بحران مالی شکاف ثروت نژادی در ایالات متحده را افزایش داده است. دولت‌ها و بانك‌های مرکزی از جمله فدرال رزرو، بانك مرکزی اروپا و بانك انگلستان تریلیون‌ها دالر کمك مالی و همچنین محرك‌های مالی که در تاریخ بی سابقه بود را ارائه کردند. این سیاست برای جلوگیری از سقوط بیش‌تر، بازگرداندن باور به بازار و اوراق تجاری و همچنین ایجاد وجوه کافی برای بانك‌ها بود. تصمیمات و اتفاقات مختلفی در طول چند سال بحران مالی رخ داده است.

## در نتیجه

بحران مالی (۲۰۰۸) طوفانی بزرگ در اقتصاد جهانی بود که علاوه بر ایالات متحده کشورهای دیگر را هم تحت تاثیر قرار داد. این بحران که ریشه آن در اعطای وام‌های رهنی به قشر کم درامد بود، اثرات جبران ناپذیری را بر بانك‌ها، بازار سهام، مراکز اقتصادی و همچنین مردم عادی گذاشت.

## مرجع:

روزنامه فایننشال اکسپرس.


# اعلانات داوطلبی

### د داوطلبي خبرتيا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ننگرهار گمرك لپاره د يو پايه تلې د تدارك او نصب) په پروژه کي چي تشخيصيه نمبر ئې (G/۱٤۰۳/MOF-۸٦۵) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبی په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لارې د شرطپاني له شرايطو او د تداركاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.

د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۲۹۲

تر داوطلبی وړاندي د جلسې ټاکلې نېټه: د (ميزان/۰۸/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰بجې.

د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د(ميزان/ ۱۴۰۳/۱۸) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمين: يو سل او دوه شپته زره (۱٦۲۰۰۰) افغاني.

ځای: پښتونستان واټ ماليې وزارت د تداركاتو رياست او د تداركاتو ملي اداري رسمي ويب سايټ.

په ځنډ رسېدلي او انټرنيتي افرونه د منلو وړ نه دي.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه اعمار تعمیر آرشیف گمرك نیمروز، وزارت مالیه، دارای نمبر قرارداد ۰٤۰-NCB/W/۱٤۰۳/MOF را با شرکت ساختمانی و سرکسازی پسران نادر قسمت دارنده نمبر جواز (۴۴۰۱۷) و نمبر تشخیصیه مالیه (۹۰۰۵۰۰۰۰۵۵) را به قیمت مجموعی مبلغ ۸,۵۹۹,۹۹۹ هشت میلیون پنجصد نود و نه هزار نوصد نود و نه افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکرو طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات، منزل دوم.

### د داوطلبی خبرتيا!

د ماليې وزارت د امارتي املاکو لوی رياست غواړي، چي د کابل ښاروالی لومړۍ او ۱٦ مي ناحيې اړوند (۳) امارتي ملکيتونو په جلا جلا ډول د مزايدي له لارې اعلان ته وړاندي کړي، چي دغه ملکيتونه د يو کال لپاره ئې په کرايه ورکول کېږي.

[illegible]- د کابل ښاروالی ۱٦ مي ناحيې اړوند بگرامي نساجي فابريکې ته مخامخ يو باب د تيلو ټانك چي (۱۳۲۲.۳) متره مربع مساحت سره د ټولو ملحقاتو چي مياشتنی ابتدايي کرايه ئې (۲٦٤٤٦۰) افغانی ده د ۳ کلونو لپاره ئې په کرايه ورکوي.
کوردينات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۲٤٦۸٤۸ - ۳٤,۵۰۳۰۱۲

۲- د سينما پامير ۱۴ پوړيزه ودانی لومړي پوړ کي يو باب (۲۱) نمبر غرفه چي (۸.۹۳) متره مربع مساحت لري او مياشتنی ابتدايي کرايه ئې (۳۵۵۰۰) افغانی ده، د ۳ کلونو لپاره ئې په کرايه ورکوي.
کوردينات(جی.پی.اس نمبر): ٦۹,۱۷۲۱۹-۳٤,۵۱۳٤۲

۳- د مدينه مارکيټ يو باب (۹۴) نمبر دوکان چي (۱.۲۰) متره مربع مساحت لري او مياشتنی ابتدايي کرايه ئې (۵٦۷۸.۴) افغانی ده، د يو کال لپاره ئې په کرايه ورکوي.

هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورتني دوکانونه له ذکر سوي قيمت څخه په لوړ قيمت ونيسي، کولای سي چي خپل غوښتنليکونه د (سنبله/ ۲٦/ ۱۴۰۳) څخه وروسته تر (ميزان /۱۴۰۳/۰۸) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپانه دې ترلاسه کړي.

د آفرگشايی ټاکلي نېټه: د ۱۴۰۳ کال د ميزان ۹ مه نېټه د سهار (۹) بجې.

ځای: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانی، (۵) پوړ، د دولتي املاکو لوی رياست –د مرکزي ټرونونو د ارزوني لوی مديريت.

د اړيکو شمېري: ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷

### د داوطلبي خبرتيا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د کابل گمرك څخه د نېمروز گمرك ته د يو پايه تېلو ذخيرې د لېږد او نصب) په پروژه کي چي تشخيصيه نمبر ئې (W/۱٤۰۳/MOF-۷۳۸) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبی په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش يا ميموري له لارې د شرطپاني له شرايطو او د تداركاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.

تر داوطلبی وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د ( تلې/۰۷/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰بجې.

د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د(ميزان/ ۱۴۰۳/۱٦)
د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د آفر تضمين: شل زره (۲۰۰۰۰) افغاني

ځای: پښتونستان واټ ماليې وزارت د تداركاتو رياست او د تداركاتو ملي اداري رسمي ويب سايټ.

د اړيکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

په ځنډ رسېدلي او انټرنيتي افرونه د منلو وړ نه دي.

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه


د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)






## افغانستان د (۱۰) بیلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د ټاپي د ګازو نللیکي پروژې د پیل اعلان وکړ




د ایکسپریس ټریبیون ـ THE EXPRESS TRIBUNE او بیزنیس ریکارډر - BUSINESS RECODER په نوم دوو پاکستانی رسنیو، د شینوا – Xinhua په نوم چیني خبري اژانس، د تاجیکستان نیوز.نیټ - tajikistannews.net په نوم تاجکی رسنی او د پایپلاین ټیکنالوژي ژورنال – PTJ په نوم بېلابېلو نړیوالو رسنیو د اسلامي امارت او ترکمنستان له خوا د ټاپي پروژې د پیل په اړه مختلف ریپورټونه په لړ او ډېر توپیر سره خپاره کړي دي، چي هري رسنی رنګارنګ سرلیکونه ور کړي دي.

ایکسپریس ټریبیون د خپل ریپورټ په سر کي ویلي دي، چي د ستونزو له بابته یاده پروژه ولاړه وه، چي بالاخره په دې وروستیو کي د (۱۰) بیلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د اسلامي امارت مشرانو او ترکمني چارواکو له خوا د دې لویي پروژې پرانیسته و سوه، کوم چي وایي خورا حیاتي پروژه ده.

د افغانستان د ملي ټلویزیون په حوالې سره د مولوي ذبیح الله مجاهد صاحب خبرو ته داسي اشاره کوي: «له نن څخه به ئې په افغانستان کي عملي چاري پیل سي.»

د ترکمنستان په ایسلیم چشمه کي د پولي په مراسمو کي د افغانستان د اسلامي امارت د ښاغلي رئیس الوزراء ملا محمد حسن اخوند په ګډون دواړو غاړو دې ستري پروژې ته خورا تود هرکلی و کړ.

د ترکمنستان اولسمشر سردار بېردي محمدوف ئې په اړه داسي وایي: "دا پروژه به نه یوازي د ګډون کوونکو هیوادونو اقتصاد ته ګټمنه تمامه سي؛ بلکي د ټولي سیمي ملکونو ته به هم ګټه و رسوي."

ریپورټونو د دې لویي پروژې د خبري پوښښ له مخي په هرات کي رخصتي او په کابل کي ئې و تبلیغاتي پوسترونو ته هم اشاره کوي.

د ظرفیت په اړه ئې وایي، چي دا نللیکه به هر کال شاوخوا (۳۳) بیلیونه/ میلیارډه میتره مکعب ګاز و لري، چي د ترکمنستان له ګالکینیش څخه تولیدېږي. د نللیکي اوږدوالی ئې (۱,۸۰۰) کیلومیترو ته رسېږي، چي په سوېل کي د «هرات او کندهار» په ګډون له افغانستان څخه تېرېږي او تر پاکستان وروسته ئې سر هندوستان ته رسېږي.

ریپورټونه د افغانی رسنیو په حواله د افغانستان د حق اوعوایدو په تړاو زیاتوي: «پاکستان او هند به هر یو د ګازو د انتقال ٪(٤۲) او افغانستان ٪(۱٦) اخلي، په داسي حال کي، چي کابل به هم د افغاني رسنیو له مخي هر کال نیږدې (۵۰۰) میلیونه امریکایي ډالر ګټور ټرانزیټي فیسونه ترلاسه کړي.»




ایکسپرېس ټریبیون «دندې او ارزانه ګاز» تر سرلیک لاندي بیان کوي، چي دا مراسم یو فرصت وو، چي په ورته وخت کي هرات ته د نوري فایبر او د برېښنا مزي او هم د اورګاډي د یوه پله د پرانیستلو په ګډون د بېلابېلو دوه اړخیزو پروژو د پیلولو فرصت وو.

د کاري زمینې په هکله ښاغلي مجاهد صاحب اې ایف پي ـ AFP ته ویلي دي، چي د ټاپي پروژه به په افغانستان کي (۱۲,۰۰۰) کسانو ته د کار زمینه برابره کړي.

د تطبیقاتو په اړه ئې د یوه متخصص نظر رانقل کړی دئ، چي وایي: "موږ تمه لرو، چي دا به یوازي په راتلونکې لسیزه کي عملي سي."

نړیوالي رسنۍ وایي، چي دا پروژه د اسلامي امارت له پاره خورا یوه حیاتي پروژه ده، ځکه چي افغانستان د لوېدیځ له اقتصادي او مالي بندیزونو سره مخ دئ، خو اوس تلاښ کوي، چي د انرژۍ، کانونو او زېربناوو په برخه کي اړیني پروژې بیا پیل کړي.

شینوا – Xinhua چیني خبري اژانس بیا په خپل ریپورټ کي دا ټکی هم ور اضافه کړی دئ، چي وایي د نللیکي اوږدوالی (۱,۸۱٤) کیلومتیره دئ، چي په افغانستان کي ئې اوږدوالی (۸۱٦) کیلومیتره کېږي. له دې پروژې به د افغانستان له پاره (٤۵۰) میلیونه ډالره ولګول سي.


**"د افغانستان اسلامي امارت او ترکمني چارواکو د دې ستري پروژې خورا تود هرکلی وکړ. دا پروژه به نه یوازي د ګډون کوونکو هیوادونو اقتصاد ته ګټمنه تمامه سي؛ بلکي د ټولي سیمي ملکونو ته به هم ګټه و رسوي. د نللیکي اوږدوالی ئې (۱,۸۰۰) کیلومیترو ته رسېږي، په افغانستان کي ئې اوږدوالی (۸۱٦) کیلومیتره کېږي، هر کال به شاوخوا (۳۳) بیلیونه/ میلیارډه میتره مکعب ګاز و لري. پاکستان او هند به هر یو د ګازو د انتقال ٪(٤۲) او افغانستان ٪(۱٦) اخلي. د ټاپي پروژه به په افغانستان کي (۱۲,۰۰۰) کسانو ته د کار زمینه برابره کړي. افغانستان به په لومړۍ لسیزه کي (۵۰۰) میلیونه میتره مکعب ګاز، په دوهمه لسیزه کي یو بیلیون او په درېیمه لسیزه کي (۱,۵) بیلیونه میتره مکعب ګاز تر لاسه کړي."**

شینوا د افغانستان برخه په داسي انداز رانقل کړې ده: «افغانستان به په لومړۍ لسیزه کي (۵۰۰) میلیونه میتره مکعب ګاز، په دوهمه لسیزه کي یو بیلیون او په درېیمه لسیزه کي (۱,۵) بیلیونه میتره مکعب ګاز تر لاسه کړي.»

## MoF Pays off Debts 2.7 bln Afs From Remaining Loans of ADB, WB Borrowed by Pervious Authority




Based on the decision of the leadership of IEA, the Ministry of Finance has paid off the debts of 2.7 billion Afs, which have been borrowed by the previous authority (regime) from international organizations or bodies. "Almost 1.9 billion Afs have been returned yet to the ADB (Asian Development Bank), and a bit less than 910 million Afs to the WB (World Bank)", as MoF affirmed. Additionally, MoF has set aside an amount of money from the national budget for the purpose of paying off the loans of some foreign institutions in the current FY1403, which is based on the request of the lender institutions and the guidance of the leadership of EIA. IEA has not borrowed from any foreign country or organization in the past three years; rather, they try to repay all the remaining loans to the IEA from the previous authority based on the decision of the leadership according to the contract; hence that Afghanistan may not remain indebted to any





### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چي د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.

تیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
(+۹۳) ۰۷٤۵۷٦۵۷۵٦/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af

### د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چي خپلي مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.